NHS

# HPV

## vaccination

ستاسي د سرطان خطر کمولو لپاره
د HPV ناروغۍ په وړاندې خوندي توب



arm against cancer

## د واکسین پرو ګرام

د HPV واکسین د ښوونځی کال 8، له لسو کال څخه زیات وخت نه نجونو ته ورکول کېږي. له سپټامبر ۲۰۱۹ راهیسې 8 کلنو هلکانو ته هم ورکول کېږي.

دا له دې امله دی چې شواهد څرګندوي چې د HPV واکسین هلکان او نجونې د HPV اړوند سرطان څخه ژغورلو کې مرسته کوي.

## د HPV واکسین په انساني پیپیلوما وایرس (HPV) اخته کېدو څخه مو خوندي ساتي.

دغه وایرس وروسته بیا د سرطان د ځینو ډولونو لامل ګرځي، لکه:


- د رحم سرطان
- د خولې او مرۍ سرطان
- د مقعد او تناسلي برخو سرطان.

د HPV واکسین له جنسي اړیکو له لارې د خپرېدونکو ناروغیو مخه نه نیسي.


# HPV
## او دا چې څنګه خپرېږي




**HPV ناروغي ډېره عادي ده.** له ۷۰٪ څخه ډېر نه واکسین شوي خلک پرې اخته کېږي




**HPV په پوټکی او ټول تناسلي اندام او خوا و شا کې ژوند کوي**، نو کنډوم کارول په بشپړه توګه له HPV څخه مو خوندي نه ساتي



HPV ډېرې **مختلفې بڼې** لري



د HPV اکثره ناروغۍ د نښو رامنځته کېدو لامل نه ګرځي او **په خپله ښه کېږي**



**ځینې يې نه پاکېږي** او د سرطان لامل ګرځېدی شي په داسې حال کې چې نور يې د تناسلي دانو لامل ګرځي



# تر اوسه د HPV واکسین څومره اغېزمن ثابت شوی؟

ټوله نړۍ کې له 80 مېلیونه څخه ډېر کسان واکسین شوي.

اټکل کېږي چې په خپل وخت به دغه واکسین انګلستان کې په کلنۍ ډول سلګونه تنه وژغوري. یوې وروستۍ اسکاټلینډۍ څېړنې له وړاندې څخه ځوانو مېرمنو کې له سرطان وړاندې د رحم ناروغیو کې ۷۱٪ کموالی ښودلی.

انګلستان کې د واکسین پروګرام له پیل راهیسې جنسي برخو کې دانې لرونکو ځوانانو شمېر کې د پام وړ کمی راغلی.

# د HPV واکسین کول

واکسین په مټ کې کېږي او بشپړ خوندیتوب لپاره یې باید دوه ځلې ترسره کړئ.

لومړی پیچکاری په 8 کلنۍ او دوهمه یې په عام ډول 6 څخه تر 12 میاشتې وروسته کېږي. تاسې ته به دوهمې پیچکارۍ په اړه خبر درکړل شي.

غوره خوندیتوب لپاره، واکسین
باید په جنسي توګه فعاله
کېدو څخه وړاندې ورکړل شي.

که تاسي په جنسي توګه
فعال یاست بیا هم باید
واکسین وکړئ.



## که 15 کلنۍ پورې مې د HPV لومړی واکسین ته وئ کړی نو څه به وشي؟

که له 15 کلنۍ وړاندې مو د HPV کوم واکسین نه وي کړی تأسې باید درې ځلې واکسین شئ. دا له دې امله دی چې مشرانو هلکانو او نجونو کې د دوه ځل واکسین پایلې دومره ښې نه دي.

دوهمه پیچکاري به لومړۍ پیچکاري څخه یو میاشت، او وروستۍ پیچکاري بیا د لومړۍ پیچکاري څخه شپږ میاشتې وروسته کېږي.

که مو خپل واکسین هېر شوی وي باید د واکسین ډلې یا خپل عمومي ډاکټر سره څومره ژر چې ممکن وي د ملاقات وخت ټاکلو لپاره خبرې وکړئ.

## واکسین مې قضاء شو، ایا بیا هم واکسین کولی شم؟

هو. که مو ښوونځي کې دواړه واکسینونه ونه کړل تاسې یې تر ۲۵ کلنۍ پورې کولی شئ.
خپل د ښوونځي نرس یا عمومي ډاکټر سره سمدستي تماس ونیسئ.



## واکسین شوي مېرمن دي بیا هم باید د رحم معاینات ترسره کولو ته ځي

انګلستان کې ټول ۲۵ یا ډېر عمر لرونکو مېرمنو ته د رحم معاینات وړاندې کېږي.

دغه واکسین به د رحم د سرطان د ۷۰٪ پېښو مخه ونیسي، خو د رحم نورو ستونزو لپاره یې معاینات اړین دي.

## د سرطان نورې بڼې په څنګه شي؟

اوسمهال د HPV اړوند نورو سرطانونو لپاره د معایناتو پروګرامونه نشته. که کومو نښو په اړه اندېښمن یاست خپل عمومي ډاکټر سره مشوره وکړئ.

د واکسین جانبي عوارضو په اړه نورو معلوماتو لپاره یا واکسین لپاره د مریض د معلوماتو کتابچې کتلو لپاره www.nhs.uk/hpv ته ولاړ شئ



## په یاد ولرئ

چې د 6 میاشتو په فاصلې سره دوه ځلي واکسین شئ

چې په راتلونکي کې د سرطان مختلف بڼو څخه خوندی کېدلو لپاره، ، همدا اوس خپل واکسین ترلاسه کړئ

اتکل کېږي چې په خپل وخت به دغه واکسین انګلستان کې په کلنۍ ډول سلګونه تنه وژغوري.

**نورو معلوماتو لپاره، www.nhs.uk/hpv څخه لیدنه وکړئ**

د واکسین د اجزاو بشپړ لیست لاندې ادرس څخه موندلی شئ: د مریض د معلوماتو کتابچه (PIL):
www.medicines.org.uk/emc/medicine/19033

د تولید د ځانګړنو لنډیز (SPC):
www.medicines.org.uk/emc//medicine/19016/SPC/gardasil

HPVACTION.ORG

NHS

دغه کتابچه د انګلستان عامې روغتیا له لوري جوړه شوې ده.

**واکسین، هر څوک په هر عمر کې ژغورلو سره مرسته کوي.**

© کراون د چاپ حقونه ۲۰۱۹. APS) 1012473A 2p 200 K SEPT 2020)